اخترمحمد یوسفی

# بیله شکه پاکستان دښمن د دوست په جامه کې

د پاکستان د شرم ډکه د درواغو ډنډوری د افغانستان سره د دوستی بیځایه هلی ځلی دی؟

پاکستان د خپل ۷۴ کلن پدایښت په ټول تاریخ کښی د افغانستان سره بیله خیانت او جنایت څخه بل داسی کوم د خیرکار ندی کړی چی یو یوګاونډی دوست هیواد په سترګه وکتل شی!



د تیر کال د اګست د میاشتی څخه را پدی خوا پاکستانی استخبارات آی. اس. آی د امریکی په لارښونه طالبان یی په کابل کښی واک ته ورسول. طالبانو حکومت موسيقي او ګڼ نور هنرونه یی 'حرام' وبلل، د طالبانو په راتګ سره یې په افغانستان کې پر کنسرټونو او د موسیقۍ په پروګرامونه بندیز لګېدلی دی. پر افغانستان د طالبانو له بیا واکمنېدو وروسته د ګڼو نورو افغان کدرونو ترڅنګ یو شمېر افغان هنرمندانو هم خپل هېواد پرېښود او د پاکستان په ګډون یې بیلابیلو هېوادونو ته پناه یوړه. پېښور کې د تاکال پولیسو بي بي سي ته ویلي، چې څلور افغان سندرغاړي یې د فارن ایکټ یا د ناقانونه اوسېدو په جرم نیولي دي.

دغه افغان سندرغاړي افغان ههاجر دی چی د کابل تر سقوط وروسته پېښور ته تللي او دېرو نورو په څېر پاکستان کې د اوسېدو قانوني اسناد نه لري. د افغانان د هنرمندانو بندی کول په پاکستان کښی د بشری حقوق او د نړیوال د مهاجرینو د کنوانسیون پر خلاف کار دی. له بده مرغه د پاکستان حکومت او پاکستانی استخبارات آی. اس. آی په تیرو پنځو لسیزو جګړو کښی ټول افغانستان یی وران کړیدی، پاکستان په تیر نږدی لسیزو کښی دوه افغان جمهور رئیسان (ډاکټر نجیب الله او برهان الدین ربانی) یی وژلی، دوه واره یی افغان وسله وال پوځ یی د خپلو مزدوران په مرسته وران کړیدی، ټول د اوسپنی کباړ، د بریښنا مزی او پایی حتی د مړو هډوکی ، د درختو د بوټی ریښی یی هم د فغانستان څخه پاکستان ته

وړیدی دی.




پاکستان اوس د طالبانو د حکومت په شتون او د طالبانو د جګړو د لګښت، د القاعدې د پټ فعالیت دپاره د افغانستان د ډبرو د سکرو په لیږدولو او چور باندې پاکستان په منډه پیل کړیدی، چې چینیان خپل وار تر پاکستان د مخه نګړي.





طالب جانه افغان اولس نور په درواغو مه غولوه، پورتنی د افغانستان څخه ډبرو د سکرو څخه ډک بارلاری، د افغانستان و نه پخلاکیدونکی دښمن روان پاکستان ته ځی.

https://www.bbc.com/pashto/pakhtunkhwa-61626492

د بل خوا د پاکستان د خیبر پښتونخوا د پوهنی وزیر کامران بنګښ ډنډوری خپره وی چی پاکستان د خپل نوی چلونو په لړ کښی غواړی چی په افغانستان کښی د مډیکل کالج تر نامه لاندی د پاکستانی استخبارات آی. اس. آی یوه پټه ځانګه پرانیزی.